آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۱۴

# «راکټونه، خیراتونه»

## (یو ځل بیا)

زما د یو آزاد شعر سرلیک «راکټونه، خیراتونه» دی چې ما د خپل ذوق له مخې د ۲۰۱۶ کال د لسمې میاشتې په پنځه لسمه نیټه په افغان جرمن پاڼه کې خپور کړ.

اوس چې د نړۍ د یو ستر ځواک له لوري، د نړۍ تر ټولو لوی او درووند راکټ بیا هم زموږ پر خاوره او خلکو باندې و آزمیل شو، اړینه یې ګڼم چې د «راکټونه، خیراتونه» تر سرلیک لاندې خپل دا شعر یو ځل بیا درنو لوستونکو ته وړاندې کړم:

## «راکټونه، خیراتونه»

خیرات خواره یو

راکټو ته مو کچکول نیولی

د ژوندون خیر مو له راکټ نه غواړو

موږه یو وږي

سیلاوونو نه فصلونه غواړو

موږه لار ورکي یو

سر سام یو

توپانونو نه آرام غواړو

له خپل دښمن ځیني د سرو ګلونو فصل غواړو

چې لړ مو پام شي نو بیا سره یو

او په وینو کې لیت پیت پراته یو

۲۰۱۶/۰۴/۰۸
هیدر سلیف،
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ